چه فرزندئے شراب خوراو قمار باز شی — نوریئ کا نړے شی د پلار په خونه ساز
خدایه له هسے زاهو زاده امان وکړه — چه بې دینئے دیانت شی بې نماز

چه منکر پرے اعتراض کولے نه شی
داد شعر مے رحمٰن که اعجاز

بد اختر به نیک اختر نه شی هرګز — مرغ نیچیر به د رکوهر نه شی هرګز
که مکان یئے په آسمان وی نزاوشوه — ستازه به شمس و قمر نه شی هرګز
کښئے اصل له یوے زمکے وی څه وشو — بید به سرو صنوبر نه شی هرګز
که هم عمر باران وربانده ووری — خر به کله پیغمبر نه شی هرګز

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

له نااهلو دنا طمع دُمه کړه کنده نل به نیشکر نه شی هرگز
که تورغوله خایه خوزی دُبه خوزی ولے نوربه مقدر نه شی هرگز

درحمٰن په باب چه وشو هغه وشو
مکرر به دا دفتر نه شی هرگز

که څوک نخرکا په ننګ وپه ناموس دا په عشق کښے نه ارزیږی یوفلوس
کداغوستی یے زری جامے وی څه شو کنړه یامرغ زرین دے یا طاؤس
که تے تاج وی په سرایښی غزا وشوه په نظرزما هُد هُد دے یا خروس
که یے فهم فراست وی نه یے عقل خالی نقش لکه عکس د معکوس
نه مغزنه دانه وی په خرمن کښ عبث هسے خالی لونی په سر بوس
د مجازله یاره طمع د خیر مه کړه تمامی شروشدت دے دا لوس
ودانی یے همه واړه ویرانی وه راشه ګوره ماڼۍ دوے تیا نوس
که زماپه کفتګو کښے زیات وکم وی څوک دِ ګلا کا په دا بنهر کښے جاسوس
ساقی جام دباده راوړه چه بیخود شم خدایے څوک مکړه په خودی کښے محبوس
که څوک وغواړی تمامه دنیا واړه زمایار غوندِ به نه وی بل عروس

رحمٰن حسن د یار وینم په پرده کښے
نه پتیږی نور د شمع په فانوس

اے زما د زړهٔ آرامه راش راش سروقد کل اندامه راش راش
چه همه واړه خوبان د مقتدیان دی دهمه واړه امامه راش راش
بے تانشته هیڅ حرمت د عاشقانو دمشتاقو احترامه راش راش
خدائ زده بیا به هسے وقت وی اوکه نه وی زهٔ ویریږم له ایامه راش راش
ته هنګام دے که وفا کړې که جفا کړې چارے نه شی بے هنګامه راش راش
د اجهان د مسافر دیو رباط دے تله دی تله دی له دے کرامه راش راش
پرې رویه سنبل موی ملک خوے عنبر بوئ لاله نامه راش راش

شپه لا پریږده رنړا درځ را باندِ شپه شوه
درحمٰن ماه تمامه راش راش

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

بیایم زړهٔ د توره زلفو مسخره ش — چپ وراست دهښو تورو نښکره ش
هرطرف یې ده غاښې ګذار کړل — ولې یوهم هسې نه وجه کار کړه ش
وهرلورنه چه ځوږ باسم غوږ نا ده — یا نارې د بیلتانه دی یا محشر ش
واعظان خو وعظ کاندې باری څه کا — چه د عشق په لیونو ئې ګذر ش
چه پدر غوندې مانه نصیحت کړ — په دیدن یې ستا هغه زما پسر ش
ستا په درکښې چه پراته دی بیکښتان دی — چه د استالې د وُوت در پدر ش

د عشق زخم به څوک څه کښږی رحمانه
چه ګنډون یې په پرهر باندې پرهر ش

په دوران یې هسې رنګ د لېر پیدا ش — کوبا بل د نمرد پاسه نمر پیدا ش
یا طالع د زمانې یا د زما بخت دے — چه دا هسې رنګ شیرین بشر پیدا ش
چه قاصد د ورک یوسف زیرے پرے وکړه — د یعقوب د نظر بیا نظر پیدا ش
عشق دے دا که یو فساد دے نه پوهیږم — چه جهان کښ چه دا شور و شر پیدا ش
د ریږم نخل د عشق مه وی زرغون شوي — چه له بناخ بې د غم ثمر پیدا ش
ملا نګ د عشق له غم خبر نه دی — خوهم مالره دا سخت سفر پیدا ش
یو د ترکو بې نیازی بل عاشق شوه — په پرهر باندې بل پرهر پیدا ش
بیا به روغ د عاشقې له رنځه نه شی — په هر تن کښ چه د غه اثر پیدا ش
دنا اهلو زوي پلار به څه بنا دی کا — چه له پشت نه لیم پسر پیدا ش

چه هنر غیب کوی غیب هنر کا
د رحمٰن په دور دا هنر پیدا ش

هیڅ یم نه زده ده پوهیږم داغه پیرش — چه د لدار یم دا غیاد په شکل څیرش
زمانه یم د رقیب له لاسه وژنې — چه یم سپی کا نره هغه رابانده شیر ش
د هجران غمونو هسې په عذاب کړم — هغه غیب چه یم لږ کا نره اوس د یرش
چه په تیغ یم لوبے کړے سزایم دا ده — نه چه غوڅ یم زړهٔ د ترکو په شمشیر ش
تیر ساعت به د هیڅ پاسه لاس کښې نه ووزی — اوس به څه وایم چا ته چه تیر ش
چه د یم نوشه د هجران پیاله کړه تلخه — د وصال دولت یم کل زهر وکنه پیر ش

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

چه یې نه په وفا یاد نه په جفا وي
سکه رحمان د هغه یار له دل هیرش

چه نصیب یې سینه چاک زړه انګارش — جرس څکه په فریاد وي په چغار ش
چه نداد عاشقئ په عاشق وشوه — د غفلت له خوبه پاسیده بیدار ش
عبادت دریا کار څه پکار نه دے — لکه غوک هسے په بحر کښے مردار ش
د جاهل زهد په زهد حساب نه دے — لکه مال په خمرو خرچ د خمر خوار ش
مشقت د ناه انانو وایه پوچ دے — لکه بے باران ابر تش غبار ش
علمیت د بې عمل عالمانو — لکه کنج د کتابونو په خر بار ش
چه ئے کاندو نااهلو ناقابل ته — نصیحت د ناصحانو څه په کار ش

د رحمن کلام په غوږ دبے هنرو
لکه دُر په لاس د ضعل هسے خوار ش

کوره څه بلند مقام دے د اخلاص — چه جهان واړه غلام دے د اخلاص
که له زمکې و آسمان ته خاته کوان دی — د اسفر په یوه کام دے د اخلاص
چه خبر کړه مخلصان له علم غیب — د هغه واړه الهام دے د اخلاص
د رواج و رسم عمر مدام نه وي — لکه عمر چه مدام دے د اخلاص
بے اخلاص خلاوه د اسلام نشته — که اسلام دے خو اسلام دے د اخلاص
څه عجب دے که مستان وی تر چاپیره — هر ساقی څخه چه جام دے د اخلاص
څه عجب دے که همائے په دام نښلی — هر صیاد څخه چه جام دے د اخلاص
پس له مرګه به دا مهر و اخلاص نه وی — که اخلاص وی نو هنګام دے د اخلاص

د رحمن کلام په دا سبب شیرین دے
چه ئے هر کلام کلام دے د اخلاص

که ته نه کړے په بل چا باندے غرض — بل به نه کاندی په تا باندے غرض
که ګدا د بل په ځولی غرض نه کړی — سپي به نه کړ په ګدا یا باندے غرض
په ساحل کشتئ د هیچا نه وبیړی — که څوک نه کا په دریا باندے غرض
خنو تیاد په لمبل خلوت کښے فراغت دی — د رسوا دي په رسوا باندے غرض

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دا دُنیا په احمقانو ده ودانه دانا نه کا په دُنیا باندِ غرض
زهٔ رحمٰن د عشق په دود کښے هسے خوښ یم
چه مر نشته په دوا باندے غرض

طمع مکړه په دُنیا کښے د نشاط بیا به نه مومی نشاط په دا بساط
لکه راغلې بیا به هسے ځُنے دروی دا جهان د رهروانو دے رباط
ترهر کام لاندِ کومی دے دده دهر اینې بویه هرقدم په احتیاط
ودانا دته په دا جهان بنکاره یږی هم جنت دهم دوزخ دهم صراط
په عاشق به هیڅ دهشت د رقیب نه وه که ئے نه کړے له خوبانو اختلاط
له کم ذاتے بے دیانتے بے نمازه طمع مه کړه د نیکئ د یو تسیراط

غم د ترکو تر رحمٰن هسے چا پیر شه
لکه د سکنړی جامه په چا خیاط

اومه کله دی پاخه وائې واعظ هرچه وائی واړه نه وائې واعظ
دے چه ماله خپله یاره لرے باسی نور به څه راته اومه وائی واعظ
جاروا ته زماله بیاره دیر مشکل دي زیاتی څه له دوباره وائی واعظ
په خوږ و پستو خبرو ئے غلط شوے ما خوابده خوابده تراخه وائی واعظ
زهٔ بے عشقه بل یو کار کولے نه شم دیرله عشقه تښتیده وائی واعظ
اعتبار ئے په نرئ په کرمئ مه کړه دا توده توده ساړه وائی واعظ

اومید دنکی بیے رحمان دوئیل نه یم
بهتر دادي چه نور نه وائی واعظ

په تندی چه مدام بل کړه آتش شمع څکه بیا مونده له هغو آرام شمع
په انوارِ منور اهل ابصار شو لابه کله شی بنکاره دا انعام شمع
پتنګان ئے لور په لور ترمخ څرخیږی څکه نه کوی په سول کښ آرام شمع
وسیزه تر زان زما په شغله باندِ کړه پتنګ ته په رموز کښے کلام شمع

ستا مجلس د خاصو الخاصو سرفراز دو
د رحمان په څیر نه مومی هرعام شمع

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

هر یو کل د ستا د باغ روشن ترمے ترچراغ — روشن ترمے ترچراغ هر یو کل د ستا د باغ
ستا د باغ د بلبلو زاغ په نظر زما هم هغه شی — په نظر زما هم هغه شی ستا د باغ د بلبلو زاغ
د درد مند و په دماغ ستا د زلفو عنبری — ستا د زلفو عنبری د درد مند و په دماغ
د عاشق د تهمتو داغ په آسمان د عشق آفتاب دے — په آسمان د عشق آفتاب دے د عاشق د تهمتو داغ

د رحمن د زړه فراغ نه شی نه شی بے خوبانو
نه شی نه شی بے خوبانو د رحمان د زړه فراغ

اورنګزیب د شاه جهان ځوند اشراف — صدقه شه ترمنصور غوندې منداف
که د تن په لوئے لوئے دے ټبرئے ټبرئے کړے — مه کړه خدایه چه کوه طور شی کوه قاف
یل هوس د عاشقو نه هوس نه کړه — دا د روغ دی چه زړه وزشی بوریاباف
د مکے په بزرګانو کښے هیڅ شک نشته — ولے خربه حاجی نه شی په طواف
که په سل دریاب غسل د ځان و کا — ګمان مکړه چه به پیے شی پاک و صاف
کشتی هم چه ډیره وکه شی د وبیړی — د مرګ په ځان بلاشه خپل اسراف
صابر انو صبر پریښو حریصان غوندې — د څه عدل شته په چا کښے نه انصاف
د اخلور وا په مذهب سره یو دي — ما و تا کښے پیدا کړه اختلاف
د همه وا د مکو نو جنتن خدائے دے — که دوزخ دے که جنت دے که اعراف
شهیدان نه دی همه خون نړوشلی دی — چه خوئی نه خون بهانه کا معاف
د کاذب ژبه په خوله کښے وچه شه ده — لکه تورد د لړکی وی په غلاف
د دیوال په سر به څو زغلی ترکومه — د روغتون چه د روغو هی لاف
آب و تاب د ناکړه مهروی همسره — څو نظر پرے شوے نه وی د صراف
د د نیا په دولت نازمه کړه رحمن — دا یو موی دے په نظر د مرشکاف

مدح د محمود حبیب ود رقیب کړم
رحمان نه زده بله هجوه نو را وصاف

چه پائے بند شه د لیلیٰ په اشتیاق — مجنون واچوه د نورو ته طلاق
چه د می د د طرب په خوند خبر شه — فراموش کړه صوفی نفل د اشراق
جام د میو دے یار قص د خوبانو — په هر ځائے چه وبله جمع شی عشاق

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په نیمۀ نظر نۀ کاندے نقده — که څوک حوره ورته ستایئ یا براق
چه حاصله د دلبر یکانګی شی — د دوبی خبرے نه کاندِ مشتاق
حرکت له ځایئے نه کا لکه شمع — که ئی اوږه په سر بلیږی په تاراق
خوښ وی هسے د خپل یار په درد و غم کښ — ته به وائے چه بادشاه دے د آفاق
هسے محوی د عشق په می ناب کښے — چه خبر نه وی په وصل پد فراق
که ظاهر په صورت وی په معنیٰ نه وی — لکه بنکل د لا لفظ وی په اوراق
غوښے تن په کار وزارکښے فنا نه شی — نه جار باسی مخ آسونه د عراق
د عراق آسونه کار په اشارت که — په وهل په کوتل کار وی دا یلاق
چه خدائی پوه کړل د بنډو په څښل پوشو — چه پوه نه شو نه پوهیږی په شلاق
که ئی سړئ که ئے مال ځی خدائے ډنه کا — د طالب د مطلوب ترمینځ نفاق
د قسمت پارچی په لاس نیولے ناست یم — له پوهیږم چه به جفت وی که به طاق

ته چه بند وائے نا صحه د رحمٰن ته
کاشکی نور کړی هغه کښلی د میثاق

ته ناحق په ما کینه کړے کینه ناکَ — په کینه به آئینه نه کړے ته پاکَ
څوک بے وجهے چا نه تورۀ تیره احسلی — خپل عمل دے چه دنیا ئے کړه هلاک
چه خندائی د بنبل په آه سرد کړه — خدائے دکل کریوان پاره کړه سینه چاک
څکه پینے شوے اول د حباب ستر کے — چه له بعضی په دریاب کښ چوی تنزاک
که تن زمکه کړی زړۀ تخم باران اوښکے — لکه نخل به سرو کاږی له خاکَ
بالادست به شی هاله پید نور و ژنو — که تعلیم د زیردستی واخلی له تاکَ
ښیابه نه موی د ترکو واک د حسن — څو رنه ورزی د درست جهان له واک
دهغه جهان ژوندون به هاله موی — چه لاس وکا کی دے جهان له ژواک
ته چه ژغوری سرو مل په عاشقئ کښ — عاشقی دا هسے چرے ده کا واکَ
چه دا هسے لوئے میلمه ته کورته بیائے — اول غولی پاکیزه کړه له خاشاکَ
په دوئ کښے به ورنه شی تر تو حسیده — څوه نمیره خالی نه شی اشراکَ
دا هغه واړه حجاب دے چه لیدد شی ! — شوره حسن بالا ترمے له ادراکَ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په ظاهر لباس غلط ډ سړی مه شه — منیځ یې کوه له چغزی او له متاک
اولیاء په جهان شکه څرګند نه دي — چه پاک زوی خپسر نغاړی له ناپاک

هیڅ وفا یې له چا سره ونه کړه
تر ورځمن به څه مانه کړي له افلاک

که په کیخ ډ شاهي لخر شهزیار ک — عاشقان ئې دا دلبرو په رخسار ک
خرقه پوشو په خرقه کښې دی موندلی — هغه خط چه دنیا کښې دنیا دار ک
پتنکا نو لره خدائ ورکړه په اور کښې! — هغه عیش چه ئې مینلی په ګلزار ک
نیک ساعت په بد بدل ډ چا مشه — په وصال کښې غم د هجر ورده وشار ک
نس ډ کوردو مو ریودے په معنی کښې — خو په چا ئې تر لحد په چا بازار ک
ډ بیړی په وخت وچه رب راضی شی — بیا ملاح د زړونو کهنه کار ک
هغه مخ چه مادر زاده ښایسته نه وي — مشقت د مشاطې واړه مردار ک
یار د نازله خوبه پاسی پسے ګرځي — چه نلک ډ عاشقانو بخت بیدار ک
نیمے شپے یې یار تر سره پورے کښینی — لکه شمع چه څوک بله په مزار ک
ډ مستئ ډ هوښیارئ یون څرګند وی — په هوچ کښې چه څه وی هسے رفتار ک
ډ بلبلو نغمه زاغ کولے نه شی — هر نرودا د واز په طور د خپل کار ک

ورځمن هسے بیوتون سودا کړنه دے
چه دین متاع بدله په دینار ک

ورځ چه بده شی عاقل او دانا څه ک — چه قضا شی ورد وظار حکما څه ک
مور و پلار خو نیک فرزند له خدائ غواړی — چه بد بخت شی ادے څه ک بابا څه ک
یار له یاره په لوئے لاس کله سهیلیږی — چه لاس نه رسی یار څه کا آشنا څه ک
په خیر و په دعا نه شی کړونی خدائے دے — چه خدائے نه کا ښیرے څه کا دُعا څه ک
بخت په زور په زور نه دی چا خپل کړے — په دا کار کښ ناتوان څه کا توانا څه ک

اے رحمانه پتنګ عذر شو پرے اوسو
نور ډ شمع خندا څه ک ژړا څه ک

هغه زوی چه مینن وی څه به خوب ک — چه فرهاد غرونډ کوهکن وی څه به خوب ک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

هر نفس دسړی تله دی له جهانه — چه ئے هر نفس رفتن دی څه به خوب ک
چه صبا نه خپلې یاره جدا کیږی — که د سلو شپو کرمن دی څه به خوب ک
عاشقی ده خدائے له اوړه پیدا کړیے — چه په اور کښے ئے وطن دی څه به خوب ک
د رقیب له جوړه خوب د عاشق نه شی — د هغو چه یار د شمن دی څه به خوب ک

خوب خندا په بیغمئ کیږی رحمٰن
هر چه تا غوندې غمژن دی څه به خوب ک

چه په ستر کو کښے ئے خار دی څه به خوب ک — چه په زړه ئے غم د یار دی څه به خوب ک
خوب له یاره سړه هم د عاشق نه شي — چه یئے یار په بل د یار دی څه به خوب ک
په دنیا کښ خوب هغه کا چه نادان وي — هغه زړی چه هوښیار دی څه به خوب ک
کوم طالب مطلوب موندلے دے په خوب کښے — هغه څوک چه طلبګار دی څه به خوب ک
د بیدار نه دے چا په پټو ستر کو کړے — چه مطلب د چا دیدار دی څه به خوب ک
بله لار د مرګ له لارے ګرانه نشته! — چه په خولئے هسے لار دی څه به خوب ک
هر نګاه د لبرانو ذوالفقار دے — هر چه غږ چه ذوالفقار دی څه به خوب ک

زه رحمٰن د یار بنده د خدمتګار یم
چه بنده د خدمتګار دی څه به خوب کا

هغه څوي چه بے خدائے محبت ک — هلکی واړه بیخایه محبت ک
محبت بے خدائے واړه د زړه واړه رنځ دے — که مدام له چنګ و نابه محبت ک
خوخاری ده چه یئ یوله بل ک اندے — هر خود رائ چه له خود رائ محبت ک
نیټجمیئ ریش کند و جامه پاره وی — آدم زاد چه له چار پائ محبت ک
هغه سرائے لړه به تله د ربانډ ګرانوی — هر سړے چه لدے سرایه محبت ک
بل هوس به نه پتنګ و پروانه شی — د مکس په څیر له د رایه محبت ک
چه د تورو زلفو سودے په چا وشی — هغه کله له هم ئے محبت ک

رحمٰن څکه د یار متابعت ک
چه رهرو له رهنمائے محبت ک

د هم درد و هم درد ی به د بے درد ک — د نامرد و هم دمی به د نامرد ک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

صحبت بے تاثیره نږدے دامثل دے کنګو نمری هم په څیږه کنګو زرد ګ
هرکالی چه څوک په زمکه باندې کیږ دی هغه زمکه ئے له جنډ څپل کړد ګ
په هجر د ویر ژړلیو څوک درمه شه که صحیح که سلامت وی آه سرد ګ

چه دوئ له میان لرے شی رحمانه

معشوقه عاشق پخپله باز پرورګ

زړهٔ م تراشی د سبز وپه تیره نوک ما توی م درویش غابن وارد په سوک
په غمژو د تورد ستر کو یم وژلے ژوبل ژوبل پروکی پروکی یم تړوک تړوک
که نارے وهم که خاورے په سر نسولم نارواشه که پروالوی یو چیوک
لکه ګل چه څوک د طفل په لاس ورکړ هے رنګ د زما زړهٔ کړوشوک په شوک
دا سهار ذ په ینلی سور لکه آفتاب شی د زر لفتو دستارګیږ دی په سر هوک
کله د پیره د رد و غم م زړهٔ وچیږی ورته هیڅ دی زما درد و زما دوک
درست جهان یئے په غم د وب کړه سر تر پایه که ګډ اده دے دهر که مسلوک
که انصاف لرئ په زړهٔ کښے منصفانو راشئ ګورئ د دلبر و دا سلوک
زهٔ بر ولے د څپل ثنا نهٔ وا ئیم چه سحر سحر نارې وهی تل غوک

چه مئین د د لبرانو په جمل شوے

اے رحمانه ځان د ژاړه کوک په کوک

په بنایست زما دیار نهٔ دی خبر څوک که خبر شی پرے به نه پرږدی دغه درڅوک
د دنیا چارے همه وارهٔ فانی دی برنا حق خاورے نولی په څپل سر څوک
چه قبول شی په درګاه د مهر و یا نو دهغه په څیر به نه وی بخت ور څوک
که زما دیار په مخ د چا نظر شی وبه نه کاندی بل خوا وته نظر څوک
د دیدن طاقت یئے هیڅا څخه نشته وا نتاب ته کتی نه شی برا بر څوک
که هر څوک د لبران د پرږدی په جهانکښ بل به نه وی زما یار غونډ د لبر څوک
عاشقی یوه پایه ده عجا ئبه دغه کار کولی نه شی هم هرهر څوک
له هجران بله سخته بلا نشته خدائے د نهٔ کاند زخمی په دانشتر څوک
مخ به بل خواته هرګز و نه جاړ ما سی چه شی ستا په خمار و ستر ګو اسیر څوک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

وبه نۀ رسیږی تانته نیه آسانه ستا په غم چه خاورے نه کاندِ په سرخوک
ارمانونه به کوی زار زار به ژاړی چه حاصله کومنته نه کا په شش در خوک
همره نوم دَ عاشقۀ وربانډِ مه ږده چه دیار په غم کښے نه شی قلندر خوک
هغه نه کاندِ نظر وسیم زر ته چه په لورد چنل آشنا کاندِ نظر خوک
په کمزورو دَ کمزار به میل نه کاندِ چه خو بوند کا دیار په خاکستر خوک
بے رهبره یُون دَ عشق په لاره کران دی دلته بویه چه پیدا کاندِ رهبر خوک

چه ښایستون په ستر کو وینی آشنائی کا
د رحمٰن په خبر به نۀ وی بے هُنر خوک

چه مشغول نۀ وی د ترکو په جمال خوک نور بښه کا په دنیا کښ اشتغال خوک
چه یې قیل وقال له یاره سره نۀ وی له نور چا سره به نه کا قیل وقال خوک
د بل خط په عبارت به نظر فهم کا چه نظر و کاندِ ستا په خط و خال خوک
چه په اصل کښے خدائے نه وے پیدا کړے تر وبه څه غواړی دا ستا دَ مخ مثال خوک
نور خو بان دی ستا ترمخ پورے هسے لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال خوک
چه عشقا شو اهل دل پدا دُنیا کښے تر وبه څه روانی چا وته احوال خوک
که عاشق په هیڅ کښے ژاړی هیڅ کرم نه وے په داهسے درد کښے نه لری جمال خوک
سرخروئی دَ هر سړی په جگر خون ده نه هغه چه په سرو چوی سور شال خوک
مخ رونړی دی د عاشق په خپلو اوښکو په دا نه شی چه ئے مړی په رومال خوک
سړی بویه چه په نیک عمل نازمیږی نسچه ناز کا دَ دنیا په ملک ومال خوک
د دنیا چارے فانی دی مرد هغه دے چه نظر کا په حرام و په حلال خوک
هرچه کړ کا د اور بشو غنم غواړی له خاطره د بیرون کا د څه خیال خوک

چه ئے شعر د رحمٰن مړهسند تر غوږ شی
غوږ به نه باسی په شعر دَ خوشحال خوک

چه علاج کولے نه شی دَ قسمت خوک تر وبه څه وائی وچا تر نصیحت خوک
غم د چا په ځان پیر زوړی باری څۀ کا چه دَ خدائے په کړه کښے نه لری قدرت خوک
هغه چارے چه مرتونی په تقدیر دی کړے ئے نه شی په محنت په مشقت خوک

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

که نظر کا وقضا وهم رضا ته — په هیڅ باندې د نړ کا ملامت څوک
د مطلوب جفا وفا واړه هنر دے — څه پوهیږی د حکما وُ په حکمت څوک
دابلیس وریاضت تړ د نظر کړه — چه غرور کا په طاعت په ریاضت څوک
علت لارښی عادت نه ځی له سړی نه — خدائے د نه کاندې په بد چارے عادت څوک

زهٔ رحمٰن د بیلتانه سیلاب یم وړے
که لاس را کاندی د خدائے په محبت څوک

هسے نه چه زما یار واړه جفاک — صد چندان لکه جفا همره وفاک
لکه نهٔ چه په چنل یار باندې مئین یم — یو په سلګه همره مینه یار په ما ک
زړهٔ ئے وړے په احسان وه نیه جور — مجنون څکه په لیلیٰ پسے ژړا ک
درست جهان د خوږ رویانو ناز بردارے — نه یوانیه دغه ناز په ما و ستا ک

نه مبه کوری رحمٰن بنکلی هغه مخ ته!
نو بنتے چه یُ د حسن تماشا کړ ؟

زغره واغوندہ ملا وتړه په جنګ — دغه پس معرکه کوه د ننګ
وبے ننګ وتهٔ د ننګ خبرے مه کړه — یا ځان وکړه په چنلو وینو رنګ
ننګیالی چه یو ځل مخ کا په یو لوری — نور هیڅ نه وینی کوهی وی که کرینګ
هیڅ له ځانه له جهانه خبر نهٔ وی — چه چراغ په نظر کیږی د پتنګ
د بلبلو چمن و تهٔ پرواز وی — سمندر کا مدام اور وته آهنګ
که جهان وبے هنره تهٔ فراخ وی — یو لحد دے هنر مند و لره تنګ
هغه بنهر جوهری لره زندان وی — چه یکسان وی پکښے لعل ومردارنګ
آسمان زمکه دواړه ژاړی د ځنګ دی — څه به زیست که څوک په خوله کښ دنهنګ
په بنائے هیڅ بنا دمه شه که دانا یُ — غم بنادی وی دوے دهڅ ځنګ په څنګ

که رحمٰن د هغو تنبیو وصل موی
تیر به نه که په دا دور کښے یو درنګ

ما ینبی م په سر دی ستاد مخ د مینے کمل — بیا م تور لیمه دی ستاد زلفو په سنبل
تنهچه آئینه په لاس کښے د اخلی حیرانیږے — زهٔ له کومه را وړم صبری او تحمل

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

گوزې په چمن کښ منګل وکړه وړې ډ ګلو — خدائے زده چه ګلونه وړې که زړونه په منګلو
هم مې مښک لیدلی هم عنبر دی په جهان کښ — شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل
نه به ستا د مخ په شعیر کښتن وی چالیدلے — نه به وی زما په شعیر آهونه ډ بلبل

هسے تغافل مه کړه ستا په جور وم په جفا کښے ؛
خلق حیرانیږی ه رحمٰن په تغافل

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کښے حاصل — هسے پلټے شوم مردود و نا قابل
مالا بوئ هم د وصال موندلے نه دے — تش په توره مې خدائے نوم کړلو واصل
هسے د دې یم د ګناه په دریابو نړو — چه په ستر کو مې نه لیدے ساحل
له وطنه مې په هر زمان وبا سی — رقیبان ئے راپسے کړه هم حاصل
که بلا ده که جفا ده که وفا ده — داهمه واړه په ما کړه خدائے نازل
ډ دنیا په پلیتئ مې ځان پلیت کړه — حیف مه داچه نه عالم شوم نه جاهل

توره بیره مې شوه سپینه زه حیران یم
چه رحمٰن لا بالغ نه شوم نه عاقل

مه غوږ باسه د نا اهلو قیل وقال — پکار نه دی قیل وقال ډ بد سګال
یا به لخوا په خپل اهل په نسب کا — یا به فکر کا ډ مال و ډ منال
یا به هسے پوچ کوئ کاندې آغاز ه — چه مضمون ئے نه مرداروی نه حلال
وه انلا و ډ نادان صحبت دے هسے — لکه ګډ شی وبله لال او کوتی لال
لکه لال وکوتی لال چه سره ګډ شی — یا صحبت شی ډ هیڅ او د د جمال
هغه غم چه تیریږی بے له جنسه — تر دې به څه وی ډ هغه غم احوال
ډ دنیا چارے ډ ډ نی وړې مرد هغه دے — چه خبر شی په ثواب او په وبال
اب وسیند لاڅه محال نړی په تنه کښے — ډ دنیا دچارو هیڅ نه وی محال
ډ دنیا چارے په شل جواب وخیال وی — څوک به څه کا اعتماد په خواب وخیال
لکه مال وملک په خوب کښ ورځ ګټه شی — خو چه ویښ شی نه ئے مسک وی نه ئے مال
لکه زکچه ډ او بو په سرلیده شی — کیږے واخلے هیڅ درنه شی په چنګال
لکه د د چه غږونه څرګند پیږی — تار پد تار شی په نړی پوه شمال

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

لکه یخ چه د سرو په زور شی جمع — هیڅ یے نه وی د آفتاب په مخ مجال
په یوه ساعت ئے ساز بیلئے ویران کا — خاورے خټے دی په لاس کښے د کلال
د مجاز په معشوقو کښے وفا نشته — ما هزار ځله وکښلی دی دا فال
اقتضا دیے په بادی د په غم مه کړه — نه ئے هجر په قراری نه د وصال
کاه ئے تور کودی په مخ باندے راکښ شي — کاه لے راکښ شی په مخ باندے روښانه
لکه مانکه چه څوک کیږی دی په اوبو کښے — زه هم هسے سرزده یم په مثال
چه د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم — صورت ریم د میږی په څیر پامال

که وصال د دیار بیا موند هنه سیال یم
ګنړه نه یم زه رحمن د هیڅا سیال

ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه یم — لا تر دا چه زیات غوښیزم چه پناه یم
چه یوسف غوندے هزار پکښے پراته دی — بند یوانه هغه سیب ذقن په چاه یم
چه یے قد وقامت وینم په ستر کو — عندلیب په بې هی سرو وښیل آه یم
د سپین مخ د تور وښتو وله رغبت — منت بار د هر سپید د هر د سیاه یم
د رقیب خبرے د یم د یار د پاره — د ګکوه هم د نیک خواه هم د بد خواه یم
بناخ د زلفو ئے پخپله خدائے را پیتلے کړ — ګنړه زه د یار تر قد پورے کوتاه یم
بے له عشق که د غیب که د هنرونه — نه خبر په عبادت نه په ګناه یم
څانهر کوره تا ګاه تا څرګند یږی — له هغے د ښی دا هسے چه آګاه یم
بے صبرئ دیار په وصل کښ مجبور کړه — د پسرلی په مرغزار کښ د چ ګیاه یم
له او له تبتر د وهم بیا آه کړه — په نارونو د خروس د صبحکاه یم
په جذ بو جذ بوئے راکښیوم د څان ته — هغه یار یم کاهر بادی زه یے کاه یم
لکه یاد د وئی پوخ شی څنګ ر ژی — زه هم هسے یار تر لی سر براه یم
اوس هم څائے په د اجهان کښے پاتے نه شته — خوزیدلے تر چهن د تر پښاه یم

د رقیب علاج آسان دے بلا د شوه
زه رحمن له خپله یاره ناویاه یم

که یم څوک په فقیرئ شمیری فقیر یم — که یم څوک په امیرئ شمیری امیر یم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

ده لبر و صدقی لره یئے غمخوارم — هسے نه چه په دنیا پسے زهیر یم
د خرقی خدمت مشکل دی اوکه نه وی — زهٔ هردم ودغه چرے وتنه خیر یم
هم پند اخلو هم پند وایم هر چا ته — زهٔ د خپلو یم مرید ارد خپلو پیر یم
په هجران کښ خیال دیار راسره مه وے — په زنداکښ د یوسف سره اسیر یم
په خندا کښ یم ژړا ده لکه شمع — له عالمه پټ پنهم د ځان په ویر یم
آزادی تره اپه هورته بله نشته — چه بندی دیار د زلفو په زنځیر یم
چه هیش په غوږ نارے د هجران آورم — رحمن خکه د خپل یار د مخ تهخیر یم

خوشحالا د دو لتا یم غلامان دی
زهٔ رحمن په پښتو ژبه ویکیریم

زهٔ یودم د ستاله غمه بے غمه نه یم — بے غمه ستاله ذکر فکر یودم نه یم
هر زیارت لره چه خم مراد یم ته یئے — زهٔ زیارت د بت خانی د حرم نه یم
ستا د در په تورو خاورو باندے خوښ یم — بے تا خوښ په تماشا د ارم نه یم
چه د ستا په تماشا یم خمار شوے — نور خبر په تماشا د عالم نه یم
بے د استاله زیبا مخ د بل مخ ته — منتظر د وے شے ترسم نه یم
که د استاد بنکلی مخ عاشقان ویر دی — زهٔ په د و پ کښ ډل یم د و یم نه یم
که له غمه د ونه مرم هاله وایه — چه په دیوبم به د وب یم آده نه یم
زهٔ یم ستا په فتره غوڅ دے غزا وشوه — که په لاس د په پښو دوغ یم کړم نه یم
سم قامت لکه الف یم په راستئ کښے — لکه شے زهٔ فساد نره سره نه یم
خم د زلفو یم محراب د کبر و د رحم — زهٔ د مرد د لره په خیر خم نه یم
کم و بیش که یم له لاس د اتعکیبی — یم سړے شکم لره بے شکم نه یم

زهٔ رحمن د بیلتانه له غمه ژاړم
واقعه ده د یره کرانه هیڅ کړه نه یم

زهٔ د اهسے دیوانه و مجنون چا کړم — له روڅ له رسوم بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه د اچا ے په ما څوک کا — لیونی د خپل نکاه په افسون چا کړم
کوی ستر کے کوم یا نره کومه غمزه ده — د وب شمیر خونے په خاک په خون چا کړم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

توان تونیق خود فتنو راغخه نه رُو په فتنوَ تورو ستر کو مفتون چا کړم

رحمٰن هیڅ له خپل ځان خبر نه یم
چه دا هسے رنګ زبون و محزون چا کړم

زهٔ له دے دُنیا نه تلو څه شتاب یم لکه پانړه وَ خزان پښه په رکاب یم
که هزار آبادئ کړم په جهان کښے غرض دا چه نهایت خانه خراب یم
که م اصل د حیا تو له اوبو دے! بیا خو دا چه دا اوبو په سرحباب یم
دا جهان قصاب خانه کړه خدائے وما ته پاڼه ولاړ په غولی وَ قصاب یم
چه وَ خدائے له معرفت خبر نه شم معنو میږی چه یا دیو یم یا دواب یم
که صورت م وَ سړی دے زهٔ څه کړم په معنیٰ کښ وَ چارپایو په حساب یم
لکه بُت چه په دنر و ستر کو اُوده وي هسے زهٔ په بیدائ کښے وړے خراب یم
په طاعت په عبادت م زړهٔ یخ نه کړه همیشه وَ معصیت په اور کباب یم
سړَ خدائے د عبادت نه اینبرے نه شم مدام د روب وَ ګناهونو په دریاب یم
چه د خپلو ګناهونو ته نظر کړم سزاوار وَ هر عذاب وَ هر عتاب یم
لکه څوک چه په خړه سوري مخ یے تور وی زهٔ هم هسے تر څنګتن پورے بے آب یم

غزا د شوه که ګمتار کوم په ژبه
زهٔ رحمٰن چه کړه ارنه ګورم ګذاب یم

په یوه غمزه وَ ستر کو ئے فنا شوم سر تر پایه بے بنیاده بے بقا شوم
ما د یار له غمّ دم و هلی نه دے هم رسوا شوم که م دم و هلی نه دے هم رسوا شوم
ښه چه ن م تری تومند شوه په عشق کښ هله څ خکی وَ شبنم اوس دریا شوم
زهٔ د یار و مخ ته کورم یار و مانسته چه داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کښ که ګدا ورم کند په غاړه په وصال کښ بادشاه وَ امرا شوم

بادشاهی وَ ګدایانو په دُعا شی
زهٔ رحمٰن څنګه بادشاه یم چه ګدا شوم

تر هغه حده په هورتله بد سړے شوم چه د درست جهان په ستر کو کښ اغزے شوم
دنیا د په څښله زیت و روزګار کا نیږ خو یوزهٔ په دغه بار کښ کوږ لرګے شوم

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

تماشې جهان لمن راځئه نظارې ؛ پېښ زړوکې م اغوستې تور کومه شوم
هیڅ حاجت ډ هنر نشته د نصیب ته غزا وشوه که مهمندیا داوزمه شوم
دنوح زوئے هم ډ نیک نیکه نسې وُو کنړه زهٔ هم ډ یو نیک نیکه نسے شوم
کل وسواس له احتیاط پیدا کیږی زهٔ له ډیرے هوښیارئ نه لیونے شوم

اوس عطا دآدمیت دا باندې وشوه !

چه رحمٰن ډ هغه یار ډ کوڅې پسې شوم

ډ هجران له ډیره غمٔ ولے نهٔ مرم له ده هسے رنګ ماتمٔ ولے نهٔ مرم
چه یو یار له یلٔ یاره جدا کیږی دوه ده ورله ستمٔ ولے نهٔ مرم
چه په هر سحر زما په ژړا خاندی له ده هسے صبدم ولے نهٔ مرم
یار چه یار په ستر کو نه وینی خو مرګ ده تر وزهٔ بے له خپل صنمٔ ولے نهٔ مرم
چه په لږه کرمنی شا کاندې و ګل ته له ده بے وفا خبم ولے نهٔ مرم

چه ډ مرګ خوارے په خوا لوے رحمٰنه
لا پخوا تر دغه دمٔ ولے نهٔ مرم !

اعتماد به په دُنیا کوے تر کو مرَ ! دا رنګتار به پس شا کوے تر کومٔ
شو به پټ له مرګه کرزے سپینه کیږه په رو بنانه وړځ به غلا کوے تر کومٔ
چه ده ورله یا نو وفا غواړے صیاد ی بے ډ عنقا کوے تر کوم
د پیرئ علاج په وانګ په لوړنه شی دغه کار به په عصا کوے تر کوم

نهٔ چه پند ولئے ناصحٔ و رحمٰن ته
شکایت به ډ قضا کوے تر کومٔ

که م دنیا نخئ ساقی په یوه جام تر دا هورته به نور څه وی احترام
بنده دے مالوه دا فیض ډ شرابو چه په رو نیځم د دلق ارزق جام
مے خواړ که په عالم کښ بد نامی ده ما تر پښو دے لاندې کړے ننګ و نام
په میزان کښ یو سر لعل بل سر کانړی مساوی په عاشقئ په خاص و عام
عاشقان ډ پښې رخسار ډ تورو زلفو څه پرواه لری ډ کفر دا سلام
په مجنون باندې قلم لا غلی نهٔ دے که حلال ئے په مخ ورشی که حرام

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

حلال عشق دے په رحمٰن باندې راغلې
په حلالو کښ مدام وی احترام

وهمه دوته نظر کړه مدام! چه غلام کړه خپلې مینې د غلام
دینکانو مدعا خو نیک عمل وی ساعت نه کوری که صبح وی که شام
چه د زړهٔ حضورئ نه وی په نماځه کښ پکار نه وی مقتدی وی که امام
چه مجنون غوندې په مینه کښ صادق وی رحمان وایم په هغه باندې سلام

هم نغمے کاندی هم رقص کاهم خاندی
د رحمان په شعر ترکے د باکرام

خبر نه یم چمیٔ یاد ستم له کومَ بیایم کومَ خواته استوی چه دروم
لکه روند چه لاس د بل په اوکو کیږ دی هیڅ ژوره نه وی درمعلومَ
خدائے راپیښه نړۍ لاړ کړه نالیدلے لکه ورانه ماشوره چه وی سرکومَ
خراب زړهٔ یم تور و زلفو ته هوس کړه باری کیوت د مارغه په څیر په لوم
هسے کوړے ستا عاشقئ راباندې وکړے چه سنګین خاطر یم نرم شه تر موم
چه ته هیڅ له خدایه ترس وویره نه شی الغیاث وِدلبرانو له رسوم
کله راکاندے شراب د لعلو لب کله جام د زهرو راکاندې چه شوم

د مطلوب له طالبا نو چه څن څمیږی
اے رحمٰن اول سیل شه بیائے موم

هسے تیز دردی دوران کوبا برق دے درخشان
دآسیا په څیر کردش کا په زمین باندې آسمان
کګرئ دی د سر سیو چه دو پیږی تردا میان
پیدا کیږی لت کیږی نه ئے حدشته نه پایان
نه ئے حدشته نه پایان شته نه ئے سرشته نه سامان
څنی دول دهی بنادی کا څنی ویرکا د چنل څان
څنی شمع غوندې ژاړی څنی کل غوندې خندان
که یئے کوری یو کمزاردے که ئے کوړے یو بیابان

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

یوه هسے تماشا ده! چه یئ هیڅ نشته بیان
کیفیت یئ مونده نه شی په دلیل و په برهان
چه یئ کوم خوا رفتن ده یایئ چرته دے مکان

خدائے خبره ده په دا علم
هیڅ خبر نه دے رحمن

دیر یاران دُو ده کل خان د جمال خان
پکار نه شو په یو وقت د زارستان
دهمه واړه یارانو فخر دِ تور شي
که به څوک وینه یاری کاپه دا شان
چه یو یار په سوری پروت وی بل په اورکن
وهغوته به څوک نه وائی یاران
هیڅ تعریف م په دا ژبه وایه نه شی
صد رحمت شه په یاری د کل خان
تر دا هورته د یاری شرط نه خدا وی
چه په اورکن د واړه او سوزی یکیان
چه له آل له اولاده سره وسول
خدائے دِ نه کا څوک دا هسے مظلومان
چه په اورکن یود بل د پاره سوزی
مالیدلی نه دُو هسے مخلصان
څرنگ شرخ ورهغه اوا وهغه خلق
چه یئ مړ نه کړو د اوبکو په باران
الغیاث دے الغیاث دے الغیاث دے
چه انسان کا هسے ظلم په انسان
دمړو د چاره م دُلیدے په ستر کو
چه یئ اچول دا وروته بنیان
هم دے زمکی هم آسمان ته تعجب کړم
چه نه زمکه په ناروشوه نه آسمان
هم دے لویو لویو غرونو ته حیران یم
چه ونه لوښتد د دیڅ سر غلطان
لدے جنڅ سپی نفس م زړهٔ بد شه
چه دا وبه څکی یا خواړه خوری په جهان
عالم وائی چه قیامت به په جمعه وی
ولید ما په یکشنبه په دا دوبان
هزار حیف دے په دا هسے رنگِ چارے
واقعه کیږی د دنیا په سود و زیان
په عینی اوپه جهان کښ گناه نشته
دا مکرونه دی د نفس اوګ شیطان
عزیزانے خپله ووژله بخپله
دا همه واړه تقدیر دے د سبحان
هسے نه چه دائے نه کړه نور به نه کړی
چه ئے زړهٔ شی هغه کاندِ بادشاهان
شاه عالم اعظم وګوره چه ئے سخی کړه
په خونو نو واړه مک د هندوستان
د دا را او رنگ لیب و نه حیران یم
چه ئے څه چاره د قه شوله ترمیان

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د حسن حسین غزا و شوک په زړه کړه — چه شه واړه په تیغ شو شهیدان
د دنګ غونجې او بسکو د ښو رغړ ولې — بې حسابه هسې خلق شو طوفان
هر چه اهن ګوته نیادی حلال دا دسې — که سړی دی که پیری دی که حیوان
آدم زاد په زمکه یو بل سره وژلی — په دریاب کښ د بنه غونجې خوری ماهیان
لکه غونجې چه ماهیان خوری په دریاب کښ — په هوا کښ هم د غه کاندی مرغان
خزنده و پرنده دی د دسې د هسې — شه واړه یو تر بله مشت و کړیوان
مرداری د مسې دنیا خو هم د غه ده — څکه پیر ته خنی ګرزی درویشان

مکاری د زمانی څه همره نه ده
چه رحمٰن چالاک و اندی بیان

د نیا دار د نیا کار که د ډ د ین — خو اینې زما په ملک دی خوشحالې
هیڅ کم نه دی ترسپین مخ د دلبرانو — بلکه بنه دی زما شعر نمکین
مراد له تور و سپینو واړه د نیری ده — مرتوف نه دی د غه کار په تور و سپین
مرتبه د سلیمان چه چالاک ورشی — هیڅ پوره نیمګړه نه ده په نګین
چه رنګین رنګین مضمون پرے بکښ دی — څه پکار دی د بیاض ورق د رنګین
خوند په خولې نه په سکه نه په خواره دے — آب و خور که د تاچ تلخ دی که شیرین
غرض خوب دے که په خس دی که په خاوره — څه حاجت دے په بستر و په بالښین
مصری تورہ هم په بد غلاف کښ زنګ شی — خدائے څوک مه کړه د بدانو همنشین

څه عجب که په رنځ مهر په شپه ماه شی
د رحمٰن آشنا چنان دی هم چنین

که نقیر که څوک په کار د درویشانو — خو د به د دینی وقار د درویشانو
هم په د غه لار به ورشی خدا مخ د سول ته — که څوک یون کا ندی په لار د درویشانو
هر کفتار به ئے د خدائے په ورتبول وی — چه د تبول ئے وی کفتار د درویشانو
هسې کړه بازار بل په جهان نشته — لکه کړه د ه بازار د درویشانو
په بیړه قدم تر عرش پورے رسی — مالید لے د ے رفتار د درویشانو
همره خلق ئے زیات که پس د مرکه — چه بازار وی په مزار د درویشانو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

بادشاهان دعجهان واړه پراته دي لکه خاوره په دربار د درویشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دے خزان نه لري بهار د درویشانو
د جنت د باغ ګلونو به يې هير شي که څوک وويني ګلزار د درویشانو
چه دنيايي کره د هدايې دپاره مترکه صدر حمت شه په روزګار د درویشانو
د قارون وحال تهګوره حال څه شه راشه مه ګوه انکار د درویشانو
په هرچاچه د غضب لمبنده کا کښنه خط نه دروي ګذار د درویشانو

درست ديوان د رحمن زار تر دا افزل شه
چه بيان يې کړ دار د درویشانو

اوبکے نه لري حساب زماد سترګو بې حسابه شه سيلاب زماد سترګو
سپاهيم همه واړه سفيدي شوه هسے پرے ولیکه شه کتاب زماد سترګو
که يم سره دی که يم سپين دی که يم مستوردی اوښتو يو رو هر اسباب زماد سترګو
چه رخسار د هغه يار زاخمه پټ شی حبطه شی آب وتاب زماد سترګو
چه ګدازيې په داګر مراد سنګو نه شه مګر کانړی دی حباب زماد سترګو
چه يم نقش په زړه سره شونډے د يار شوے کان دلعل شو ګرداب زماد سترګو
که نور خلق د آفتاب په نر ازليت کړه مخ د ترکو دے آفتاب زماد سترګو
مايې خيال لره اښتې د سترګو زين کړه قدم نه ږدی په رکاب زماد سترګو
لکه تښتی وحشيان له مردما نو هسے وتښتيده خواب زماد سترګو

ما رحمن چه سترګے روزے مخپښ يار کړے
اوس محال دے اجتناب زماد سترګو

هيڅوک مشه ګرفتار د تورو زلفو مه اسيرشه په کفار د تورو زلفو
هم په شان د تورو زلفو به پريشان وی هرچه کاندی انتظار د تورو زلفو
د محشر عالم به ګله په قرار وی څوک به شه غواړی قرار د تورو زلفو
څوڼې صبح د قيامت د سپيده نه لری ورځ به نه شی شب تار د تورو زلفو
مګر شعر د پښين مخ شی باندے بله ګنډه نشته نور انوار د تورو زلفو
تار په تار که د عاشق د خاطر خونه چه حلقه شی تار په تار د تورو زلفو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

چه تمام جهان ئے نښتی په دے دام کښ — څوک په څه کاندې انکار د تورو زلفو
زهٔ له کومه یوه کمنده سرو کا زم — کمندونه دی هزارد تورو زلفو
په تندی د مختب که دُره ماته — چه پرے راشی دره دارد تورو زلفو
همره زړونه ئے پښتی په هرتار دی — چه تیږ کړه خدائے زنار د تورو زلفو
ملک د هند و د حبش ئے وا ره زیر کړه — چه پیدا شه شهریار د تورو زلفو
ښامار ان خوندے کړی په کښو نو — ننتی هیڅ په زړهٔ کښ د ارد تورو زلفو
که بل مار چیچل په لاسو یا په پښو که — په زړهٔ خوله نکوی مار د تورو زلفو

د رحمٰن ترقلم مښک و عنبر ووری
چه آغازی ئے کړه اشعار د تورو زلفو

د د لبرو په درک ه — نه حرمت لرم نه جاه
غوښتی م د زړهٔ ولې — د چشمانو په نکا ه
همره قدر م هم نشته — نکه قدر د کیا ه
هیڅ خبر له څانه نه یم — چه ئے څه لرم گناه
یو نظر را باندې نه کا — از برائے عند اللّٰه
که له غم ئے سر پټ کړم — بل سر نه لرم پناه

د رحمان په څیر د نه شی
حال احوال د چا تباه؟

که څوک لاس له سوده وکا زی زبان نشته — په مښک باندې تلنگ و تاوان نشته
جدائی د آشنائی نه پیدا کیږی — ناآشنا له هیڅ غم د هجران نشته
دوفا خریدار بل خواته دروی — دا متاع د زمانی په دکان نشته
مګر خان وخدائ ته پاسلی په امن شی — گنړه بل خواته د هیڅا امان نشته
هغه یار به زهٔ وکومه خواته خوا رم — چه ئے هیڅرته منزل و مکان نشته
د لبران که هر څو د یردی په جهان کښ — زما یار غوندې د لبر په جهان نشته
چه هم قدلری هم زلفو هم سرے شوندے — د غه سے رنګ آفتاب په جهان نشته
عشق ع څنګه یو هسے ګلستان دے — چه و باغ و ښے لار د خزان نشته

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

عاشقان په عشق کښ واړه سلطانان دی په دابنهر کښ نیستکار ونا توان نشته
که مجنون غوندې په عشق کښ شوک صادق شی دلیلی په دروازه کښ دربان نشته

دانایان به د رحمٰن په قال پوهیږی
دلته کارد هر نا اهل نادان نشته

یادوی په خونه مکه او مدینه نسکور پروت بې د عورتے په سینه
زور ند سر لکه غنچه مراقبه کړی پټ د نقش د زړهٔ رخت دی رنګینه
د اطلسو تبا غواړی نه مسو می له ناکامه د خرته کړه پشمینه
عبادت د ثوتیرے ترمعصیت کړ څه خو نیسه وګان تر آشینه
کینه بده ده بیشکه جنګ حرام دی نه له نفس وله شیطان سره کینه
د مردانو کار له نفس سره جنګ دی نه زنان غوندې له نقش لګینه
ترناپاکو نارینه ډ ده بهتره پاک دامنه پرهیزګاره ارتینه
ده بیندارے ارتینځ له یوے کوښی صدقه شه سل بې دینه نارینه
نیکو کار سړے بهتر دے که خوړسال دی ترپین ږیری بدکردار ه دیرینه

بدکردار که صدساله دی ورحمٰن ته
څرګند ږیری لکه طفل شښینه

عاشقئ رابانده سوړے کړے مړئ هیڅ هر نه دروی بے یاره تر مړئ
څه اثر به ئے د عقل وی په سر کښے د هغو په سر چه کښینی چا پیړئ
د مژګانو په پنجه م زړهٔ وکاږی خدائے د ترکومتے ستر ګے کړے زمړئ
علوفه به ئے بیغمه نور څه نه وی هر چه کاندی د خوبانو چاکړئ
لږ د صبر سبق صالره هم را کړئ که په عشق کښ شوک څه طاقت لرئ
خدائے څه د دے کوتوال په لاس کښ ورکړم چه شپه ورځ م غږ وی لکه طورئ
په صورت م نرئ تبه شوه ولا ړه تاچه دوا ره ستر ګے تورے کړے نرئ
د وصال د لارلان کوم طرفته نه وارم چه بندی شوم د هجران په کچیرئ
نور د شمع په فانوس کله پټیږی تاچه واغوستے د خیال جامی نرئ
زهٔ رحمٰن په زړهٔ نړه کړم هغو جونو چه ئے ملا وی د وینټه په دود نرئ

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د عشق زخم څه د زخم په شان نه دے — دیل زخم پیشیر سهل و آسان نه دے
عاشقان د معشوقے سره پوهیږی — دغه راز و نور عالم ته عیان نه دے
عاشقی نه ده که کوے حیرانی ده! — کوم سړے په دغه کار کښ حیران نه دے
یو عاشق د څوک راوښیئ په عشق کښے — چه یئے زړه پر ځای د بنکوړان نه دے
همره او بنکے د عاشق په کریوان وړی — ته به وایئے چه یو سیند دے کریوان نه دے
دا هجران څه چه لے مرګ په عاشق کران کړو — که هم ځان و ژغوره د وی هیڅ گران نه دے
نور غمونه که په ځان د سړی بد دی — غم د ترکو بد د هیچا په ځان نه دے
د د زخ دا د که تاؤ د حده د یر دے — برابر د بیلتانه د سیران نه دے
چه بالا شی څوک په عشق کښ کم عقل — دا کم عقل د یر هوښیار دے نادان نه دے

چه بے یاره زه جهان و ته نظر کړم
رحمٰن دا یم چه ویران دے و دان نه دے

هغه یار چه بیوفا دے څه یار نه دے — هغه کار چه بے بقا دے څه کار نه دے
که د سر بسندل د شوا رپه ځاوتا دی — دا په عشق کښ سهل کار دے د شوار نه دے
اند یښنه سړے بیدار کا ندی له خوبه — کم اند یش که بیدار دے بیدار نه دے
یکه څه عمر دے عاشق لره وصال دے — د هجران عمر د عمر په شمار نه دے
د چشما نو په څنډ کښ تیر و بیر شی — اعتبار د زمانې اعتبار نه دے
که د سلو زړو یو پلار څه به یئے څه کا — بیرتوف زړی د پلار څه په کار نه دے

معشوقی هیڅه ناز په عاشق کا ندی
رحمٰن هیڅ له خپل یاره آزار نه دے

ستا د عشق حرفونه تورنه دی کمکوزدی — هم په دا چه نوشته په جگر خون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میو — چه لے خاورے د فرهاد و د مجنون دی
د د نیا چارے همه وارے فانی دی — دا د ستا جور و جفا و لے افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لاله نه دی — چه په سرکفن نه زمکی را بیرون دی
چه بې هیڅ بهانه سیو څخه نشته — جونه نه دی سکه کهڅ د قارون دی
بادشاهان په یوه دم کښ گدایان که — صائید نی فساد و نه د گردون دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

رحمٰن د زړهٔ خوناب مکر قبول شو
چه محونه د دلبرو پر کمکون وی

د عاشق نظر په خورد و په خوب نه شی — مراد بیٔ بے دیارله دربل باب نه دے
ته نظر په خپل هنر په عقل مه کړه — دا اسباب په عاشقئ کښ اسباب نه دے
چه دیار سره حساب ۀ دنیا کا نذی — دغه هیڅ په عاشقانو حساب نه دے
چه عاشق پد عاشقئ کښ رباب نه شی — که د رستجهٔن ارباب وی ارباب نه دے
هرچه یار منع کوی له خپل یاره — دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دے
دا حجاب چه نور عالم ئ حجاب بولی — دا زما د یار ترمیانه حجاب نه دے
دا ثواب دے هم سوئ دیارله مخ — ما کنړلے دغه کار په ثواب نه دے
که لیدلے زلیخا یوسف په خوب وه — ما په ویښه دی لیدلے په خواب نه دے
صبر و نیسه په مخکښے که مراد غواړے — هیڅ کړے دغه کار په شتاب نه دے

رحمٰن سوال د بوسی کړے دے له یاره
لا ئے هیڅ څه مونډلے جواب نه دے

همیشه د زما سره ستا قدم وی — ترهغه ساعت پورے څو م دم وی
ستاله لاس واړه ملاوه نافع دی — که م زخم وی زهر که م مرهم وی
زړهٔ بے تاهسے کمان کړه چه سفال دی — که نسکورم په لبانو جام ۀ جم وی
نور عالم که د دنیا په بنادئ بناد دی — زما زړهٔ د مدام بناد د ستا په غم وی
که په زړهٔ باندے م سل غمونه راشی — دا ستا غم د ترهسه ئ مقدم وی
ما د ستانه غم خدائے ببینه نه کا — ترهغه ساعت پورے څو م دم وی

رحمٰن ستا په مخ مئین دے خدائے خبر دے
که په دا کښ به هیڅرے زیات و کسم وی

هرچه ستا په زنخدان کښ یئ منزل شی — لکه حسن په تناره کښ به جلبل شی
څوک چه نوم دا ستا د شونډو و په خوله واخلی — کیئ زهروی په خوله کښ هم عسل شی
په هجران کښ زهٔ بے برک و بینوا یم — لکه کښت چه اوبهٔ نه موه شدول شی
په عاشق باندے ما هسے کمان مه کړه — چه یار زړهٔ ورځنه یوسی تش کوکل شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

په جهان ترآشنائی خوابزه څه نشته . ولے حیف دے چه جهان پکښ حنظل شی

زهٔ رحمٰن بی یاره هسے شول و شل یم
لکه کب چه بی محیط شول و شل شی

دواړه ستړکے یم کړے داسا په لوړدی مدام وړبے ډ فراق په آب شور دی
کنډولی د دواړو ستړکو تاپه طمع دهر لور ته یم نیرلی کودپد کور دی
چه یم ستا خیال د ترکو ولیده په زړهٔ کښ دواړه کښی یم و زړهٔ وته سنکور دی
ما قبول د رقیب نا زکړه ستا دپاره سود و زیان پدا اجها نکښے خورورور دی

په رحمٰن باندے داهسے گمان مه کړه
چه بے تا په نورشه غلیږی هغه نور دی

د ساقی په لاس کښ جام د میو و ناب دی مطرب اینی په زانو باندے رباب دی
ته چه ما وته توبه وائی نا صحه په ما وتت کښ چا څنه ډ توبے باب دی
زهٔ چه څان منع کوم ډ عشق له کاړه په داهسے کار کښ کوم سود و ثواب دی
د آسمان چه لوړ په عقل کښ بالا شی په محیط د عاشقئ کښ یو حباب دی
هرچه ژغورې سرو مال په عاشقئ کښ هغه کړے کور په هکښے د سیلاب دی
ته چه خوب خوا په په عشق کښ راته وایه کوم چا کړے د زمری په خوله کښ خواب دی
بے عمل که کتاب کیږدی په سرشه شسو کو یا اینی ئی تر پښو لاندے کتاب دی
چه د شر له عملونو نه خیر غواړے تشنه لب غوندے سرشری په سراب دی
د دشمن له مکارئ وو یږه مه ښه په زمئ ئی غنط مشه سنګ د آب دی

عبادت په شتاب هسے کړه رحمانه
لکه عمر چه ډ تلونی په شتاب دی

غواصان که کوهر غواړی کوهر دادی بیډ لان که د لبر غواړی د لبر دادی
زما یار غوندے به بل یو د لبر نه وی د جمنه ډ د لبر انو سرور دادی
خوند د لبوا ودّ چاه ز مخدان دی راشه گورهٔ زمزم دادی کوثر دادی
چه ډ د وصل او هجران وته نظر کړم زهٔ گمان کړم جنت دادی سقر دادی
ته خطبه په منبر شه لولی خطیبه قدم کیږده په څان باندے منبر دادی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د هغه سفر آسان دے مرد هغه دے — چه نه ځان سفر کا ئي سفر دا دی
هر منعم چه د جوئي د تندر کا — هغه نه دی تندر تندر دا دی
چه تو نگر د قناعت په خزانه شی — بل تو نگر په جهان نشته تو نگر دی

د هنر نه دے چه خاورے خوک سره زر کا
چه زر خاورے کا رحمانه هنر دا دی

دنیا دار که مستغنی په سیم و زر دی — هنرمند و ځند کیږ د خپل هنر دی
بیهوده به زور آور د وخت نه وائی — د دنیا سړے که هر څو زور آور دی
هغه مه وایه چه زهٔ یم په جهانکښی — پیدا کړے خدائ د سړے پاسه سړے دی
ځنځ ځنځ یے د نیان پیغمبران کړل — نه چه هر سړے وی او پیغمبر دی
جوړانه قدریو نعمتونه پکښی پیدا شی — نور جهان وارهٔ د تورو کا نړۍ غر دی
یو پاد شاه دی چه لښکر ور پسی د روی — نه په هر یوه سړی پسی لښکر دی
پیدا کړی خدائ سړی په تفاوت دی — نه هغسے چه جهان وارهٔ برادر دی
که د هر و رفتن ته خوک نظر کړه — دا به وائی چه آفتاب د نما زدیګر دی
چه ئی سر په زمکه اینی وی د یارته — په آسمان باندے خنثی نکه نمر دی
تعجب زما د پیرو او نښکو مه کړه — د مونږ لپاره دا بحر کښی کوهر دی

د ریب خرته ئی خدائے مه کړه پټا ره
رحمن کوی د ستر تړلے قدر دے

که د لذاره په دنیا ئی زما قدم بند دی — کوی هر قدم په زړے د حرم بند دی
خدائے لری که بے منته بوسه را کړی — کوم کریه په چا منت د خپل کرم بند دی
معشوقه مشفقه بوسه مهربانه — نه د رند چه په خان اسم د خاتم بند دی
هغے پټ نرم د زیر رخسار نه خنثو — نکه زر چه خوک خنثو پټ پهلم بند دی
خدائے د ما و تا کلونه د جنت کړل — که د غرنه په زړهٔ باندے د غم بند دی
هیڅ مانه یو خوک به مستو ستر کو نه کا — کوم یو مست دے چه قدم په زړے سم بند دی
راحت نه دے بی زحمته چه مونږ لے — کوم طبیب دی چه په روغ صورت مرهم بند دی
زما هر کور د ترخپل صنم پورے شرمیږم — برهمن چه سره په پښو د خپل صنم بند دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

واسمان تہ لاس د عقل نہ رسیږی دا خو عشق دی چہ پہ هرش کرسی قدم ږدی

زہ رحمان یے تاج کنړم د یارلہ لاسہ

کہ پندِ پہ سړه جور د ستم ږدی

د دُنیا کار دنہ کنوارہ غلول دی ما کان پہ هیڅ مکړه چہ م خپل دی

هیڅ مسړه پہ داجهان کښ پاتے نہ شوه دیخ سړے چہ اد بو پورے کول دی

یوزه غوږ د غوښتہ پہ هرچا پورے کہ د شرم یوزه غوږ غواړی باطل دی

کہ یې د ده کا سے وانی وی پہ کښد و کښ پس لہ شام هسے وایہ چہ دبل دی

کہ تہ یو یادده غیبونہ د چا شمار کړے بل به هسے تاته وائی چہ ستا سل دی

نصیحت د ناصحا نو اشرفہ کا د سړے او پښے خوشے بشکول دی

دا نا اهل همدمان دی نہ پوهیږم

کہ موچئ د رحمان بندے پہ کوکل دی

هر نگار چہ بیوفا دی نگار نہ دی پہ گلزار کښ چہ گل نہ وی گلزار نہ دی

پد تلنئ د میوست خلق م خوښ دی هغه خار چہ بوی د گل لری خار نہ دی

دینداری د نیاداری دی شعبله لړمے مالید لی هیڅ دیندار د نیادار نہ دی

کہ روزگار یې پہ جهان کښ بادشاهی ده د دی نور عالم روزگار شه روزگار نہ دی

چہ تصدیق ئے پہ خپل زړه کښ محکم نہ وی د پہ خونہ ظاهرا قرار شه اقرار نہ دی

پہ هر زړه کښ د خپل یار د غم غبار وی د غه ابر د رحمت د ے غبار نہ دی

چا یه کسب بے نہ عشق نور شه نہ کړه یاری کیږی دی چه هر یوته اظهار نہ دی

معشوقه د فاله هیڅ سړه منہ کا گنړه کوم یو د وی رخت خریدار نہ دی

د خپل یار د وصال د خدائے پہ داد مونہ شی د غه کار یې هیڅ پہ اختیار نہ دی

پہ رحمان باندِ منت د معشوقو دے

د بے هنو معشوقو منت یار نہ دی

هغه زړه چہ خدائے روښان کا جاه د جوړشی پہ داجهان کښ د ونگاره تماه عالم شی

پہ آدم کښ د حیوان خویونہ هم شته چہ خویونہ د چارپایو پکښے نہ وی سړی خوښ پہ سړی هم مسلم شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

چه آغوستے یې لباس دی ډیا کانو دنیا پکوچرے کاندی خوبه کرم شی
که هرخو طعام نذیذ دی مزه نه کړد چه یوه ذره نمک یې زیات رکه شی
بناډی هرچرے د غم پیدا نداره وی دهغوبه څه بناډی وی چه غم شی
هرچه خپله رضا پاسلوی قضاته که هر څو په ځان ناخوښ وی خوشحاله شی
عاشقی چه ترکان وو رسیږی دهغې یارنه زاس زخم یې مرهم شی

که په ځان باندې قدم کیږدی رحمن
نه فلک به د رانه ترقده شی !

د عاشق بے خپل یاره قرار نه شی بے طبیب قراری د بیمار نه شی
چه په لوح محفوظ کښ کښلی لیونی وی په تعلیم د معلم به هوښیار نه شی
زوے د پلار په غیږ کښ پروت دی روح راړشی د قضا علاج په سر وو پیسو ار نه شی
دهغوچه خدائے کښ څه روزی کړه هیڅ نقصان یے د منکر په انکار نه شی
درد د غم د عاشقی چه د یرمشکل دی هیڅ سړه د په دا رنځ کرفتار نه شی
زهٔ همد عمر نه خدائے دغه خوښت کړه چه د یارنه خپله یاره ویزار نه شی

که هر څوئ دلبری و د لخوئ کا
د رحمن په ترکو هیڅ اعتبار نه شی

د چه مست په میوراغی یار د چا دی بیا به تاخت کا په کوه غولی وار د چا دی
چه زړه سوی د حرم په صید هم نه شی دا بے درده بے صرفی کذار د چا دی
ما خونه دی څوک بے د چے آزار کړی د اچه ما آزاره وی آزار د چا دی
چه ئے درست جوړ د مخ په رنګ زیبا کا دا آفتاب غوندې روښان رخسار د چا دی
چه بلبل یې سیدے ترکمونه شی دا دښته په حرم کلزار د چا دی

چه هیڅ ترس پد زړه کښ نه لری رحمن
دا نا ترس و بی پرواه نکار د چا دی

د یوه ذره بد وزی بیا به سور یې پدیوه ذره به کرم یا به سور یې
که څوک د خدیه غوږ ے خوان به وری او که پس له خوانی پایې خو به زور یې
سړے که هر خونه جوړ کړه ناجوړ وی خدائے خونه یې چه به تن تنه جوړ یې

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

عاشقی به دآسمان غوندِ شرکند کا که مجنون غوندِ هر څوپه صورت وو ږئ

عاشق بې جذبے چرے وه رحمانه

ته مجذوب دَ یار په مهرکښ مرو ږئ

ورک شه ورک شه بدکردار اوبدسړی که پدورکه یو عزیز وی که پر دی

ترهغه لاښکو کار پیدا نه نښه وے چه بدکارشی وچ زوی یا ښځی

لوګی لوښی همه واړه پرے مردار وی بدکردار دی سورلنډی یو وږی سپی

هغه خښ به همه واړه لیونی کا چه په کلی کښ یو سپے شی لسیزی

بل علاج دلیونیو سپیو نشته بے له مرګه چه ترڅنګ کاندی کوهی

حرام خورهٔ مخنشو په حساب وی که پدتوره یا پدتیغ وی مړی

مړی وئیلی بویه وهغه ته! چه بے وجهی آزار نه کا هیڅ سړی

دیګ ږئ اینی په دیګدان درمبی ترتیغ وی چه یئ سور په آه سرد نشی نغړی

هسے فیض ئے وهرچا وته رسیږی چه بلاشی دَ څپل وخت خاتم طائی

اے رحمانه چه بد فهم دبدکارشی

ما ته دا یه سپے بهتر دے که سړئ

چه وصال دَ څپل جانان م دے مرندے ګنج دورد مرجان م دے مرندے

همره طمع م دَ څپلو بختته نه ره نه پوهیږم چه څه شان م دے مرندے

که په دې مشقت لاس لره خدائے راوست زهٔ خوا یم چه آسان م دے مرندے

چه دم یه نفس وصل ورسره وشه دا ره اجردَ هجران م دے مرندے

څه عجب دی که تمام جهان زما شی چه بدشاه دَ درست جهان م دے مرندے

زهٔ رحمان په چنې شعر شکر ګذار یم

چه دا هسے رنګ دیوان م دے مرندے

چا چه کړے دَ دنیا وته اسرے دی دمغو پد سرهمد خ ورے ایرے دی

نادانان که دَ دنیا په کار نا زیږی ودانا وته دا وشتے مسخرے دی

چه بے خدایه محبت که هغه خښ نارینه یئ دا ره خړا وښځے خرے دی

وسپین ږیری وته وایه سپین ږیری همکی واړه هلکان دکوارے دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

چه نه فیض نه شه بهره څنی مونده شی همګی واړه بے فیض بے بهره دی

ذخیره د دُنیا مه کوه رحمانه

دا هم واړه د خاورو ذخیره دی

آشنائی تورہ بلاده آشنا مه شے جدائی به دِ فنا کا فنا مه شے

درد و غم به دِ د زړهٔ ولی کړه غوښے گرفتار په درد و غم د جانان مه شے

په زیړ رنګ به دِ تل سره اوښکے بهیږی د دوړنګو په څیر ګل د رعنا مه شے

هم په واچه د روغړنه خدائے دښمن دی وهیڅ نه د روغړن په وینا مه شے

که اعلیٰ مرتبه ګواړے عاشقی ده نو رهمه واړه ادنیٰ دی ادنیٰ مه شے

همیشه به سړنګون په فکر نه ست بیٔ

د رحمن هسے مشغول په ثنا مه شے

چه په نور څه پوهه زړهٔ تړی بے خدائے څه پوهیږے چه په څائے کړی که بیځائے

دانسته چه په بل تل ترتله پائے که بیا پائے خو ترسلو کالسو پائے

که د سل کاله شی عمر خو به نیږ شی دغه پس راځه کړی راته وائے

سم لدلاس چاړه نه شی مرد هغه دے چه بید اروی و غلیم و ته له ورائے

تړ پدا اصل کښ سړے ئے خاروے نه ئے د چا پ یو چړے مه کود دو پائے

مرتبه به دِ د بچ اود میږی شی زړه په غورو غوښو مه تړه هماغے

مور به نه شی په حرص بے قناعت اے په تخت دا رنګزیب ناست ګدائے

د رانډِ سرائے لره توښه تړه رحمانه

څو سفر دِ کړے نه دے له دے سرائے

له دے کټ له پوزی خو به دلار شے تړو بیا خدائے خبر کوم خوا ته به لار شے

په ظاهر صورت خو هسے معنو میږی چه به خس غوندِ تر پښو لاند تار شے

دا آسمان زمکه به وی او ته به نه ئے په وداند وداننئ کښ به ویجاړ شے

د بهار د ګلو غم مدام نه وی عندلیب غوندِ به پاتے په اهار شے

په ویلار ویلار به ځان د رپسے ورک کړ چړے نه وی چه د ترکو په ویلار شے

که لیلیٰ غواړے بایده دی دا رحمانؔ چه مجنون غوندِ سکن د کوه وکار شے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

نه په هره کړۍ غم د سیم و زرخوړے — زه د هره کړۍ ویم چه خپل سرخوړے
عاقبت به دِ یو خندله سینے وو زی — تنه چه تس په هر یو بانخ باندِ ثمر خوړے
په غوض ئے کوم طاعت کړے راته وایه — دا نعمت چه په هر شام د هر سحر خوړے
روزقی په څنورم په هر انطار کا — تنه څلور حصه طعام پهر په هر خوړے
که یو حُل ترکه ئے ورسیږی — نور به غونبے د خپل ځان لکه قمر خوړے
که سینه د نام و ننګ دِ شی نو څنګ — د هر چا په کجروی په خپل جګر خوړے
بے هنره نه تندهم زهر قاتل دی — قندئے وکړه که زهر په هنر خوړے

نهال په زړه د صبر کړه نخل رحمانه
چه صدام د برخوردار په څیر برخوړے

تنه چه خپله بے عقلی هو نبیاړی بولے — کا ټکے بیا مړی د غونبو په نرخ شولے
عشق یو داددے په عاشق باندِ له خدایه — هسے نه دی چه ئے پیسے یا ئے پرولے
زلیخا غونډِ به بله شیدا نه وی — که د مصر مستوری شی واړه ټولے
هغه بحر څه په بحر حساب نه دے — چه اوبه ئے خاک نه دی وی خټولے
له هغوسره به څه فکر د یار وی — چه په غم وی د کاله یا د کهولے
عاشقی د نغری پد غاړه نه شی — څوپه یو رپے وانه غلی شی زولے
د وصال په نعمتو نو عمره مه ش. — جدائی خټے کړے په زړه څمولے

د رحمان شعر کوهر دی ثمینے تولے

په نامه د هغه خدائے م دا بیان دے — چه یو نوم ئے په نو مونو کښ سبحان دے
هم بادشاه دے د جمله د بادشاهانو — هم د یو هر سلطان په سر سلطان دے
هغه کا رچه د هر چا وته مشکل دے — هغه کار وا ړه وده وته آسان دے
څوک آفتاب شی په آسمان راخیژولے — د هغه آفتاب راخیژولے په اسمان دے
څوک په شپه کښ شی مهتاب پیدا کولے — د هغه په شپه کښ پیدا کړے ماه تابان دے
څوک د نمر په مخ حجاب شی غورځولے — د هغه پټ کړے نمر په ابر کښ پنهان دے
څوک یو څاڅکے پریتی شی له آسمانه — نزول کړے د هغه په مونږ باندِ باران دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

څوک شی روح ننویتے په یوه ماشی ژوندے کړے دهٔ په روح تمام جهان دے
څوک وسنګ شی رنګ دګلو ورکولے ده وسنګ ورکړے رنګ دارغوان دے
څوک له خاورو شی یوګل پیدا کولے دهٔ نه خاورو پیدا کړے ګلستان دے
څوک له سنګ شی ګوهر پیدا کولے ده نه سنګ پیدا کړے درمرجان دے
څوک شی رزق هر مخلوق ته رسولے دے دهر یوه مخلوق روزی رسان دے
څوک بنده لره ایمان شی ورکولے دهٔ ورکړے هر مؤمن لره ایمان دے
څوک له زمکی و آسمان نه شی خښلی ده عیسیٰ لره ورکړے دامکان دے
څوک له خدائے سره خبرے شی کولے ده موسیٰ مشرف کړے پداشان دے
څوک اینبودی په توسن د آسمان زین شی اینبی ده په هر اتخت د سلیمان دے
څوک په سینه ږیره پائی تر قیامت ده په خضر باندے کړے دا احسان دے
چه په دهٔ شی هغه کار په هیڅ انه شی هر توانا دهٔ تر توان پورے ناتوان شے
په اوبو کښ لے دکا نړدکوټ پیدا کړ دهٔ ورکړے پښتے اورلوه مکان دے
په سجودے ځمکه سرد ے ګولے هم ئے زورند په رکوع سره آسمان دے
هره وُنه په قیام ورته ولاړه هرګیاه یے په تسبیح سره زبان دے
همه واړه په تسبیح دهٔ مشغول دی که مسکے که پیړے دے که انسان دے
هر مرغه یے په چمن کښ ثنا خوان دے هر مرغه یے په دریاب کښ حمد وائے
حق په حق یے هیڅ انه ده ثنا کړے نه نه هیڅ او قع شوے دا بیان دے
مخلوق تو هیڅ نه دے بیتر اندے نکه ده سره چه قدر د خپل ځان دے
حد پایان ئے هیڅ سړی موندلے نه دے معرفت یے هسے بحر بے پایان دے
نه ئے زبان نه ئے زوال نه یے نقصان شته دے بے زبانه بے زواله بے نقصان دے
نه ئے مثل نه مثال نه ے مکان شته دے بے مثل بے مثاله بے مکان دے
پاک ئے وګنړه بے شک و بے ګمانه له هغه چه د چا شک د چا ګمان دے
نه ئے څوک په ستړکو وینی نه لیدهٔ شی اوبے چون بے چګونه بے پایان دے
که څوک وائی لیدهٔ نه شی لیدهٔ نه شی اوکه وائی د هر چا ته عیان دے
منزه دے نه جسمه وُ جهتو نو اوبیا هر جهت په دهٔ باندے د وان دے

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

له زړکۍ نوصفتو نورا شعرونه کوړه
چه یې کړے نیم صفت عبدالرحمن دے

هغه دمرچه زړهٔ مدلل شی — یو ساعت ورباندې کل شی
حیران تلی وی په فکر — فراموش یې تیل وتل شی
نه ئے گفت نه ئے شنود وی — په غوږ کونو په ژبه لال شی
نه جواب وچاته کاندی — نه ئے غوږ د چا په سوال شی
علم عقل څنی پاسی — درست صورت یې خواب خیال شی
په رنړدستر کواوده وی — لکه نقش د دیوال شی
ټوت یې وینی د څکر وی — هم دغه یې اشتغال شی
د چشمو نو له لارانه — په رخسار یې پشکال شی
په سبب د عاشقئ — تیرتراټ وترعیال شی
هم تراټ وترعیال — هم تراټ وترمثال شی
په خپل دود و په خپل څه کښ — ترعامه ډرغ بیال شی
نه طاقت نه ئے مجال وی — بے طاقت وه بے مجال شی
که ژوندے وی پد جهان کښ — د مرده ډیه مثال شی
په څنگ کښ ماهی کوړه — هسے بے تیغ حلال شی
پاسیدے نه شی نه څ یه — په زړهٔ غوښ په تن کهال شی
د ویشتنیو په څیر یون کا — نه کی خلقو په د نیال شی
لکه خس د لوئے لارے — ترقدمه لاندې پاښال شی
خدائ له غم سره ژغورده — بیالابویه چه خوشحال شی
چه د زړهٔ ولے شی خوشی — نور ژوند ون یې په اشکال شی
د باغبان ستړی کا سپینئ — چه تازه ټخم د زمان شی
روئیدن د کشت آسان دی — پرورش یې د پیر جنجال شی
د بیرانی په یوه دم شی — د دانی په د پیرشکال شی
چه پلار د مری بیالابوید — چه بچے زړی یتیمال شی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

څوک خبر دی له دے دوګړه — چه په ما به پیښ شه حال شی
چه په حال کښ یې حال نه وی — څه امید په استقبال شی
دیوه ساعت لد مرګه — خدائے زده څرنګ به هوډ شی
د دنیا چارے فانی دی — رفت آمدی په یو منوال شی
په مثال کښ کله سورے — خواؤ شا دهر دیوال شی
اعتبار په او بو مه کړه — چه استادی په غربال شی
د بنډو په څښولو کښ — شان شړی کا شړی شان شی
که بادشاه د وزیت دی — کښه ولی په لاس کښکان شی
په ثواب ئے مه نیازیږه — په یوه ساعت وبال شی
په کمال یې مه نازیږه — په یوه کړۍ زوال شی
دهغه یا نو سودا کړ دی — بیا دکا ؤ خرد لال شی
جوهری دی جوهر پیژوری — خو رے اغزی کړل شی
کلاک د کهکاری کا — فروشنده د مات سفال شی
په هستی کښ ئے اشراف دی — په منیتی کښ ارزال شی
د ځوانئ په وخت کښ شیر دی — د پیرئ په وخت شغال شی
چه مشهور په صداقت دی — پوچ کوئی د خلی بدنام شی
محتسب دی حساب کا — کوتهو د راضی کوتوال شی
نیکو کار دی نیک عمر کړی — بد کردار د بد انجام شی
سر نوشت د سړی خپل دے — یو عیبنی دی بل د جان شی
چه نیک بخت دی نیکوئی کا — چه بد بخت دی بد سکهان شی
